**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې ډیبورا لاینز وینا**

**کابل ۲۳ مارچ ۲۰۲۱**

*** * ***

آغلې رئیسې،

سهار مو پخیر او ښه راغلاست، زما لپاره د خوښۍ ځای دی چې یو ځل بیا له شورا سره یم.

آغلې رئیسې،

د تیر کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې د مذاکراتو د پیل راهیسې اوس شپږ میاشتې او د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د تړون لیک تر لاسلیک کولو او د افغان دولت او متحده ایالاتو ترمنځ د هم مهالې ګډې اعلامیې راهیسې بشپړ کال تیر شو. له همدې امله دا ښایي یو مناسب وخت وي څو فکر او د دې ارزونه وشي چې د سولې په لار کې د افغانانو د ملاتړ په پار نور څه باید ترسره شي. او اجازه راکړئ شورا ته د دې یادونه وکړم چې کوم څه چې موږ یې په نږدې راتلونکو میاشتو کې ترسره کوو د سولې د پروسې پر تداوم به ستر اغیز ولري. د افغان وګړو وژنې، بېځایه کیدنه او کړاو باید پای ومومي. هغه هم همدا اوس.

شورا ته زما له وروستۍ وینا راهیسې، په دوحه کې په مذاکراتو کې پرمختګ سوکه شوی. افغانانو او د هغوی نړیوالو شریکانو د واقعي پایلو د نشتون په اړه او په ټول هیواد کې د زیات تاوتریخوالي په برخه کې د پام وړ شاتګ په ضد خپلو د پوهاوي وړ اندېښنو په ډاګه کول پیل کړي. له دې سره سره د یادونې وړ ده چې په مذاکراتو کې دواړه خواوې په دوحه کې د مذاکراتو پر میز پاتې کیدلو او د خبرو اترو دوام ته ژمن پاتې شوې. د مارچ په لومړیو کې دوحې ته زما په وروستي سفر کې زه د دواړو لورو له خوا د اجنډا د کلیدي موادو په اړه د هغه مهم پرمختګ قدرداني کوم چې هغوی اوس ترسره کوي. خو په ښکاره ډول، ډېر څه باید ترسره شي څو افغانانو ته څرګنده شي چې مذاکرات د افغان وګړو د واقعي ګټو لپاره مخ ته روان دي.

څرنګه چې خبرې اترې دوام مومي، زیات شمیر شریکباني ملګرو ملتونو ته سترګې په لار دي څو په دې برخه کې لا زیات نفوذي رول ولوبوي. زه د افغانستان او سیمه ییزو چارو په اړه د عمومي منشي د شخصي استازي په څیر زما د تجربه لرونکي همکار ښاغلي ژان آرنو د ګمارنې هرکلی کوم. دغه چاره به د سیمه ییزې همکارۍ په اړه زموږ روانې چارې غښتلې او بشپړې کړي. موږ په یوناما کې به د افغان سولې او تر ټولو مهم د سیمه ییز تعامل په ملاتړ کې له ښاغلي آرنو سره له نږدې کار کوو.

همدارنګه د هغوی له خوا، یو شمیر غړو دولتونو په دې وروستیو کې د سولې پروسې د غښتلي کولو په پاره د نویو نوښتونو په وړاندیز کولو کې حیاتي رول لوبولی. د مسکو په وروستۍ غونډه کې نړیوالو ګډونوالو دا څرګنده کړه چې هغوی غوښتل په مذاکراتو کې نوی خوځښت وګوري. پراخه شوې ترویکا – له روسیې، چین، متحده ایالاتو، او پاکستان څخه تشکیل – یوه

اعلامیه خپره کړه چې د یوه "پایښت لرونکې او عادلانه سیاسي حل" لپاره مدافعه کوي کوم چې به د "یوه خپلواک، خودمختار، متحد، سوله ییز، دیموکراتیک او پر ځان بسیا افغانستان په رامنځ ته کولو تمام شي". ما دغه جملې د هغوي له اعلامیې اقتباس کړې.

همدارنګه د متحده ایالاتو له خوا په دې وروستیو کې وړاندیز شوې ناسته چې په راتلونکو میاشتو کې په ترکیه کې ترسره شي، یو د هغو اصولو د تقویت یو بل فرصت دی د کومو پر بنسټ چې به پروسه بنا وي او د یوه عادلانه او ټولشموله سیاسي حل لپاره بالقوه بنسټ رامنځ ته کوي کوم چې به د دوحې د روانو مذاکراتو بشپړوونکې وي.

خو دغه نوښتونه باید متمرکز او همغږي وي. پر هر څه سربیره دغه نوښتونه باید په دوحه کې د افغانستان د سولې اوسنۍ روان مذاکرات د تضعیف پر ځای تقویه کړي. څرنګه چې موږ د زیات شدت راتلونکې مودې ته د ننوتو په درشل کې یو، موږ ټول – ګاونډیان، سیمه ییز لوبغاړي، او نړیوال شریکباني – د دې مسوولیت لري څو ډاډمن کړي چې زموږ کړنې په ښه ډول همغږي شوي، په دوه اړخیز ډول یو بل تقویه کوي، او تر ټولو مهم د افغانستان د وګړو د لوړې ګټې خوندي کوي.

آغلې رئیسې،

که وغواړو سپینه وغږیږو، د ګڼ شمیر کورنیو او نړیوالو لیوالتیاوو په پام کې نیولو سره موږ تل پر دې پوهیدو چې دا به یوه پیچلې سوله وي. زه بې د دویم ځل لپاره وایم، موږ تل پر دې پوهیدو چې دا به یوه پیچلې سوله وي. د لسیزو جګړې په ټولو خواوو کې واقعي نارضایتي رامنځ ته کړې او د ټولو لورو ترمنځ اعتماد او باور شتون نه لري. دغه راز د اسلامي جمهوریت او د طالبانو ترمنځ د هغوي د خوښې راتلونکې دولت پر سر یو څرګند او ښکاره توپیر موجود دی.

له دغو ستونزو هیڅ یوه بې د یوې شیبې پر کار – نه په یو څو ناستو حل کیږي، صرفنظر د دغو ناستو د ځای یا د فارمټ، د دغو موضوعاتو حل او رسیدګي د ټولو خواوو زغم او ژمنتوب ته اړتیا لري. خو زما تجربه، خوښه یم چې په اړه بې خبر درکړم، په دوحه کې له دواړو مذاکره کوونکو ټیمونو او د ټولنې د ټولو قشرونو له افغانانو سره زما د خبرو تجربه ما ته دا وايي، چې سوله شونې ده. افغانان نه یوازې دا چې سولې ته چمتو دي: هغوي بې غوښتنه هم کوي. ټولې ښکیلې خواوې باید تاوتریخوالی ودروي او تاوتریخوالی باید پای ته ورسیږي.

آغلې رئیسې،

که چیرې غواړو چې د سولې پروسه پاییدونکې و اوسي، ښکیلې خواوې نه باید د افغانستان تیر ته بلکې د هغه راتلونکې ته وګوري. د سولې هر ډول حل باید د ټولو افغانانو د نظر ټکي او اندیښنې په پام کې ونیسي – نه د یو محدود شمیر نخبګانو هغو. زه د افغانستان د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې د رئیسې آغلې اکبر څوک چې نن له موږ سره یو ځای کیږي او د هغې د ټیم او نورو ادارو لکه د افغان میرمنو شبکه او د مدني ټولنې د زیات شمیر نورو ګروپونو قدرداني کوم، چا چې د ښځو، ځوانانو، قومي لږکیو، د جګړې د قربانیانو لپاره د پروسې د لا زیاتې ټول شموله ګرځولو لپاره فوق العاده هلې ځلې ترسره کړې. د بشري حقونو لپاره د نړیوال معیار د پالونکې په څیر، ملګري ملتونه له ټولو دغو ګروپونو او افغانانو سره کار کوي څو یوې ټول شموله سولې ته وده ورکړي.

آغلې رئیسې، زه زموږ د ټولو په خیر، د دغو مذاکراتو په اوږدو کې د زیات شمیر افغان میرمنو هڅې له ستاینې سره ځارلې. سره له دې چې دوی د شمیر له پلوه ډیر کم دي، خو هغوی د خپلې ونډې او مرستې له لارې دا په ډاګه کوي چې په تیرو دوه لسیزو کې هیواد تر کوم بریده بدلون کړی. ښځې باید د سولې په ټولو موضوعاتو کې د مباحثو برخه وي.

آغلې رئیسې، د امنیت شورا غړو،

کله چې د هیواد د راتلونکي په اړه پریکړه کیږي، د افغانستان میرمنې باید د پریکړې په خونه او میز حاضرې وي.

او ولې؟ ځکه دا اوس د شلو کلونو پخوانی افغانستان نه دی! دواړه د سولې پروسه او د سولې هر ډول تړون باید د نن ورځې افغان وګړي ځرګندوي وي. اجازه راکړئ یو ځل بیا یې یادونه وکړم، زموږ د ټولو لپاره، د افغانستان نږدې نیمه یې نفوس په ۲۰۰۱ کال کې د بن تړون تر لاسلیک وروسته زیږیدلی. دغه کهول په یوه مختلف افغانستان کې رالوی شوی – یو داسې هیواد په کوم کې چې ځوانان د مناسبې پوهنې په لټه کې دي؛ دویم، یو داسې هیواد چیرې میرمنې د اقتصادي او سیاسي ځواک منصوبونو ته لاس رسی لري؛ دریم، یو داسې هیواد چیرې چې رسنۍ یو حیاتي مدني رول لوبوي؛ او ځلورم، یو داسې هیواد چیرې چې د مدني ټولنې د ودې لپاره یو مناسب چاپیریال شتون لري. اوس دغه افغانان یو اکثریت ګڼل کیږي. دوی د دې مستحق دي چې د هغوی غږونه د مذاکراتو پر مهال واوریدل شي – او د دې فطري حق لري چې د سولې تړون ته تر رسیدو وروسته په افغان ټولنه کې یو فعال او مهم رول ولري.

خو آغلې رئیسې،

ټول افغانان کړیږي. د تاوتریخوالي د له بې سارې کچې ځخه کړیږي – آن چې د سولې مذاکرات هم دوام لري. زه ډیره بخښنه غواړم چې د دې راپور ورکړم چې د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دوه میاشتو کې موږ په ولسي مرګ ژوبله کې د متداوم لوړیدونکي جریان شاهدان وو، چې په سپتمبر میاشت کې د افغانستان د سولې د مذاکراتو له پیل راهیسې مستند شوی. په ځانګړي ډول د بریدونو هغه ټولګه د اندېښنې وړ ده چې په عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کوي. لا وار د مخه روان کال یوناما د رسنیو، مدني ټولنې، قضایي کارمندانو، دیني عالمانو او دولتي چارواکو په ګډون له ۸۰ ځخه زیات افغانان مستند کړي چا چې په دغو بې رحمانه هدفي بریدونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی.

خو دا د افغانستان پر مدني ژوند او افغان وګړو د تاوتریخوالي بشپړ او ویجاړوونکی اغیز نه منعکسوي. د هر وژل شوي افغان لپاره، ډیری نور شتون لري ځوک چې خپل کاروبارونه پریږدي، یا په خواشینۍ سره، دوی د دې احساس کوي چې هغوی باید خپل هیواد پریږدي. او په دې ډول زه غواړم د شورا د غړو د مارچ د ۱۲ نېټې د اعلامیې لپاره مننه وکړم کوم چې هغه بریدونه غندي چې په عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کوي. موږ ټول باید د دغو وحشیانو کړنو په ضد خپل غږونه پورته کړو.

آغلې رئیسې،

د دغه شاتګ په مقابل کې افغانان له ژورو بشري ناورینونو کړیږي، او د وچکالۍ ګواښ هم د راتلو په درشل کې دی. د خوړو ناخوندیتوب د ریکارډ تر کچو لوړ دی، او د ټولو وګړو له ۴۰ سلنې زیات هغه یې د بیړني او ناورین له وضعیت سره لاس او ګریوان دي. د لا نینا (La Nina) په موسم کې مشاهده شوې کم اورښت او لوړې تودوخې د هوا د وضعیت د لا زیات ناوړه

کیدو په اړه اندېښنې زیاتې کړې او د تل په څیر به بې وزله افغان له کړاو سره مخ شي. زه پر تاسو او ټولو غړو دولتونو حساب کوم چې بشري غبرګون له پلان سره سخاوتمندانه مرسته وکړې، کوم چې د اوس لپاره یوازې شپږ سلنه تمویل شوی. که چیرې نه غواړو چې افغانستان تر دې نور هم شاته پاتې شي ځرنګه چې هغوی له بشري ناورین سره مخ شي، لا ډیره مرسته او ملاتړ باید ترسره شي.

خو یوازې پیسې بسنه نه کوي. د بشري مرستو کارمندان لا اوس هم د تهدیدونو، تاوتریخوالي او د مرستو په بې طرفه رسونه کې د لاسوهنې ښکار دي. دغه ډول کړنې نا قانونه او د توجیه وړ نه دي. دا همدارنګه د افغانانو د ژوندانه او معیشتونو لپاره ناوړه اغیزې لري. د بشري مرستو شریکباني پرته له دې چې په نا قانونه ډول مالیه ورکړي، وځورول شي، وګواښل شي، یا ووژل شي، باید د خپلو چارو د پر مخ وړلو وړ وي. ما دغه موضوع له طالبانو سره په دوحه کې د وروستیو ناستو په ترځ کې مطرح کړه، او زه خوښه یم چې د دې راپور ورکړم چې زموږ د بشري مرستو ټیم به په دې نږدې کې دوحې ته سفر وکړي چې له طالبانو سره دغه خبرې پر مخ یوسي. موږ دغه راز له افغان دولت سره له نږدې کار کوو څو ډاډمن کړو چې د هغه حقوقي چوکاټ د هغو نا دولتي ادارو لپاره چاپېریال خوندي کوي کومې چې د بشرپالنې چارې پر مخ وړي.

ځرنګه چې موږ له دغه ګواښوونکي بشري ناورین سره مخ یو، موږ د تاوتریخوالي کموالي ته اړتیا لرو، موږ د لاس رسي زیاتوالي ته اړتیا لرو، موږ نور تمویل ته اړتیا لرو، او تر ټولو مهم موږ دې ته اړتیا لرون چې د نا دولتي ادارو ټولنې ته د دې زمینه برابره شي څو خپلې مهمې چارې پر مخ یوسي.

آغلې رئیسې، یو خوشحال کوونکی یاداښت دا چې،

غواړم د دې راپور ورکړم چې د اوس لپاره داسې بریښي چې افغانستان د کووېډ-۱۹ وبا له دویمې څپې څخه وتلی. په داسې حال کې موږ باید د ممکنه دریمې څپې په اړه محتاط و اوسو، اوس واکسین کول پیل شوي، په دې برخه کې د هندوستان دولت له مرستې او د COVAX مرکز له ملاتړ څخه مننه کوم. ځرنګه چې د واکسینو کمپاین د پراخیدو په حال کې دی، موږ باید دا ډاډمن کړو چې واکسین په ټول هیواد کې لومړیتوب بندي شویو ګروپونو ته رسیږي.

خو آغلې رئیسې،

د دې یادول هم مهم دي چې په افغانستان کې تحولات یوازې پر افغانانو اغیز نه کوي. په افغانستان کې تحولات، په افغانستان کې ټیکاو، په افغانستان کې سوله پر نړیواله ټولنه هم اغیز کوي. د یوه مثال په ډول، د نا قانونه نشه یي توکو کښت او قاچاق په افغانستان، په سیمه کې ټیکاو ګواښي او په پراخه کچه پر ټوله نړۍ اغیز ښیندي.

تیر کال د کوکنارو کښت درې برخې زیات شوی و، په داسې حال کې چې د نشه یي توکو سره د مبارزې عملیات له بده مرغه د پام وړ راکم شوي وو. موږ له تاریخ د سولې د ټولو نورو پروسو څخه پوهیږو چې نا قانونه اقتصاد د سولې د یوه ټرون تر لاسلیک وروسته په اوږد مهال کې سوله او امنیت ګواښي. دوامدارې همکارۍ ته اړتیا ده څو افغانستان او سیمې او په حقیقت کې نړۍ ته دغه ګواښ راکم شي. زه تاسو ته په دغې خورا مهمه برخه کې د پرمختګ په اړه د خبر درکولو ژمنه کوم. بل دوامدار نړیوال ګواښ د نړیوال تروریزم دی چې په ځانګړې ډول د اسلامي دولت له ډلې پورې تړلی دی. په تیره ربع کې، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د ۲۵ تاوتریخجنو کړنو مسوولیت پر غاړه اخیستي چې په تیرو دریو میاشتو کې یوه چټک

زیاتوالی ګټل کیږي. په دې وروستیو کې نوموړې ډلې په جلال اباد ښار کې د رسنیو د دریو ښځینه کارمندانو د ظالمانه وژنې مسوولیت پر غاړه اخیستی. دغه تاوتریخوالی د موجوده ګواښ یوه ښکاره بېلګه ده چې تروریزم افغانستان، سیمې او نړۍ ته مخ کړی.

آغلې رئیسې،

کله چې په راتلونکې جون میاشت کې د بل ځل لپاره وینا کوم، موږ به د متحده ایالاتو-طالبانو د تړون لیک له مخې له هیواد څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو له نېټې څخه تیر شوي یو. زه هیله لرم چې دغه مهال به موږ د دې وړ یو چې د هغه واقعي پرمختګ په اړه چې په دوحه کې د روانو مذاکراتو په پایله کې رامنځ ته شوي، په ترکیه کې د ناستې د محسوس پایلو او که چیرې اوربند نه وي، لږ تر لږه په تاوتریخوالي کې د پام وړ کموالي په اړه خبرې اترې ترسره کړو. راتلونکې میاشتې به همدارنګه د سیمې په کچه د زیاتو فعالیتونو شاهدې وي، چې د تاجکستان په دوشنبه کې د اسیا زړه په سرمشریزې سره پیلیږي، په کومه کې چې به د سیمې هیوادونه راغونډ شي، او زه پوهیږم چې په افغانستان کې د سولې او ټیکاو لپاره به خپل روان ملاتړ بیا تایید کړي.

دا هر څه کیدای شي د تحول او بدلون یوه ټکی وي – خو زموږ پر مخ پرته لار لا اوس هم معلومه نه ده او موږ د یوې سترې نا څرګندتیا مودې په لور د خوځښت په حال کې یو. د شورا د هغه پیاوړي صلاحیت سره چې موږ ته یې راکړی، یوناما به له ټولو شریکانو – افغان دولت، طالبانو، قومي مشرانو، سیمه ییزو شریکانو او په پراخه کچه له نړیوالې ټولنې – سره کار جاري وساتي څو د اړینې سولې لپاره یوه همغږې شوې پروسه غښتلې کړي.

مننه

* * *

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ "د ښه نیت هڅې" برابروي. د "ښه نیت هڅې" هغه دیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکۍ، بې طرفۍ او تمامیت پر بنسټ، په عامه او خصوص محافلو کې تر سره کوي، څو د نړیوالو شخړو د راپورته کیدو، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له پروسې سره مرسته کوي، د بشري حقونو نظارت کوي او هغوی ته وده ورکوي، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول، ښه حکومتولي ترویجوي او سیمه ییزه همکاري هڅوي. ماموریت همدارنګه د نړیوالې ټولنې له خوا د همغږې شوې پراختیایي ملاتړ ته وده ورکوي.*